# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د مارچ لومړۍ | ۵۲۲مه گڼه





## د افغانستان لپاره تاریخي هوکړه؛

### بین الافغاني خبرې پیلېږي او په څوارلسو میاشتو کې به ټول بهرني ځواکونه وځي

۳

## حامد کرزی: د امریکا او طالبانو تر منځ هوکړه د جګړې د پای او سولې لپاره یو ستر ګام دی

د هېواد پخواني ولسمشر حامد کرزي د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې تړون د لاسلیک هرکلی کړی دی.

د کرزي له مطبوعاتي دفتره د خپرې شوې خبرپاڼې له مخې، دغه تړون چې تېره ورځ په قطر کې لاسلیک شو، په هېواد کې د روانې خونړۍ جګړې د پای او سولې لپاره یو ستر ګام دی. په خبرپاڼه کې راغلي، کرزی هیله لري چې دا تړون له یوې خوا په هېواد کې تلپاتې سولې ته لار هواره کړي او له بلې خوا د سولې لپاره روانې هڅې د افغانانو په مشرۍ اجرایي بڼه خپله کړي. په یاده خبرپاڼه کې د کرزي له قوله راغلي، افغانان هیله لري چې سوله، په افغانستان کې د یو واحد او د ملي یووالي تر چتر لاندې د یو مقتدر او خپلواک نظام لامل وګرځي او دغه راز هېواد د بهرنیو استخباراتي کړیو د تقابل له میدانه را وباسي. خبرپاڼه کاږي، اوس د دې وخت دی چې د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره هڅه وشي او له سوله ییزو لارو افغانستان له روان بحرانه را وایستل شي.

د یادونې ده چې د امریکا او طالبانو تر منځ د دغې هوکړې له لاسلیک وروسته، په راتلونکو څو ورځو کې به د طالبانو او افغان حکومت تر شپږو زرو بندیان چې پنځه زره طالبان او زر حکومتي سرتېري او دولتي کسان دي، خوشي شي او ورپسې به بین الافغاني خبرې پیل شي.

## په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په اړه د افغانستان اسلامي جمهوریت او امریکا متحده ایالاتو ګډه اعلامیه



۵ مخ

## ترمپ: افغان ها از فرصت ایجاد شده برای صلح استفادۀ اعظمی نمایند



دونالد ترمپ رئیس جمهور امریکا، از افغان ها خواسته است که از فرصت ایجاد شده برای صلح استفادۀ اعظمی نمایند.

در خبرنامه ای که از سوی کاخ سفید به نشر رسیده، آمده است که ۱۹ سال قبل نظامیان امریکایی، بخاطری وارد افغانستان شدند که ریشه های توریست هایی را در افغانستان نابود کنند که در حملات ۱۱ سپتمبر دست داشتند.

خبرنامه به حوالۀ دونالد ترمپ رئیس جمهور امریکا نگاشته است: «در بدل قربانی های مردم افغانستان، مالیه دهندگان امریکا و سربازان خود، دستاورد و پیشرفت های خوب داشتیم.»

ترمپ گفته است که در جریان انتخابات گذشته، به ملت وعده کرده بود که نظامیان خود را از افغانستان به خانه شان می آوریم و جنگ طولانی مدت افغانستان را به پایان می رسانیم، اکنون در عملی کردن این تعهدات، پیشرفت های چشمگیر صورت گرفته است.

ترمپ گفته است که اگر طالبان و حکومت افغانستان، به تعهدات شان عمل نمایند، امریکا با ختم جنگ و خروج نیروهای خود از افغانستان پیروز خواهد شد.

ترمپ افزوده است که این تعهدات برای افغانستان خالی از القاعده، داعش و گروه های تروریستی دیگر، در برابر صلح دوامدار، اقدامات مهم است.

وی همچنان گفته است که اکنون مربوط افغان ها میشود که برای آیندۀ خود کار کنند و از این فرصت بزرگ استفاده نمایند.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دده‌بوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

دریـځ

## یو ستر گام او د یوه سخت او پېچلي پړاو پیل

له اوږدو او لانجمنو خبرو وروسته بالاخره د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه. دا هوکړه پرون په قطر کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او د طالبانو د مرستیال مشر ملا عبدالغني برادر له خوا لاسلیک شوه. په دې تړاو جوړو شوو مراسمو ته د امریکا په ګډون، تر شلو د زیاتو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران او نور استازي ورغلي وو. د شوې هوکړې له مخې به امریکایي ځواکونه په ۱۴ میاشتو کې له افغانستان څخه وځي، طالبان او نور بندیان به خلاصیږي او طالبان به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د بل چا پر ضد وکارول شي.

دا د افغان سولې په برخه کې یو ستر، بې ساری او مهم گام و چې واخیستل شو. په دې سره په افغانستان کې د روانې اوږدې جګړې د خاتمې لپاره یو ښه فرصت برابر شوی دی. له دې توافق وروسته به بین الافغاني خبرې پیلیږي. ستر گام اخیستل شوی، خو پېچلې او سخته لاره په مخ کې پرته ده. تر اوسه پورې د افغانستان د لانجې لویه پړه د بهرنیانو په ځانګړې ډول امریکا پر غاړه وه، خو اوس امریکا په یو ډول ځان خلاص کړ، نو هر څه زموږ پر غاړه دي. د بین الافغاني خبرو پیل او بریا هغه څه دي چې موږ ورته سخته او پېچلې لاره وایو. پکار ده چې سر له اوسه ټول اړخونه مثبت پیغامونه ورکړي او له خپله اړخه قربانۍ ته تیار وي. د سولې هوکړې له لاسلیک وروسته د طالبانو د مشر ملا هیبت الله په پیغام کې یو مثبت او مهم ټکی دا دی چې وایي، طالبان ټول هغه کسان بښي چې له دوی سره یې ستونزه لرله او یا یې هم جګړه کړې ده. دا ډول مثبت پیغامونه مرسته کوي چې وېرې او اندېښنې کمې شي. پکار ده چې د حکومت له اړخه هم همداسې پیغامونه ورکړل شي او د باور فضا له جوړولو سره مرسته وکړي.

اوس پکار ده چې ښکېل اړخونه په واقعي مانا پر دې جګړه ځپلي ولس رحم وکړي، د شخصي ګټو د خوندیتوب او د واک د انحصار هڅې ونه کړي او پر یو داسې نظام هوکړه وکړي چې د خلکو پر زخمونو پټۍ کېږدي. له همدې امله پکار ده چې حکومت ژر تر ژره له سیاستوالو سره په ګډه یو ټولمنلی پلاوی وټاکي، په منظم ډول بندیان خوشې کړي او له خپله اړخه پوره نرمښت وښیي. طالبان هم باید نوي واقعیتونه تر شوني بریده ومني، په دریځ کې یې لا زیات نرمښت ته اړتیا ده، دوی باید درک کړي چې اوس له افغانانو سره مخ دي، نو ځکه باید لا ډېرې قربانۍ ته تیار وي.

اوس زموږ مسوولیت دی چې خپلمنځي ستونزه حل کړو او یو ځل بیا بهرنیانو ته د پاتې کېدو او مداخلې زمینه برابره نه کړو. که موږ دا ځل بیا په خپلو کې سره جوړ نه شوو او یا مو د پردیو په لمسه د جوړجاړي په مخ کې خنډونه جوړ کړل، نو بیا به مو نه بښل کېدونکې ګناه کړې وي. ولس ته هم پکار ده چې په پوره قوت د بین الافغاني خبرو د بریا لپاره هلې ځلې وکړي او پر هغو لورو واقعي فشار راوړي چې په دې برخه کې خنډونه جوړوي. ولس باید د سولې مخالفینو او تخریب کوونکو ته واضح پیغام ورکړي او د سولې بریا حتمي کړي.

# یک اول ماه مارچ دیگر، یک روز دیگر دوستی ترک-افغان؛ و جنتری باز هم ادامه می نماید!

نویسنده: اوغوزان ارطغرل- سفیر کبیر ترکیه در کابل



مقامات افغانستان ۹۹ سال قبل از امروز در سال ۱۹۲۱ با به امضاء رسانیدن تفاهمنامه پیمان اتفاق، حکومت انقره را به رسمیت شناخته اند. من بخاطر از اصطلاح «حکومت انقره» استفاده می نمایم، چون ترکیه در سال ۱۹۲۳ ایجاد گردیده و در سالهال قبل از آن، تحت رهبری آتاترک بشکل امتحانی از جانب مجلس بزرگ مردم ترک رهبری گردیده، که ما آن را حکومت پارلمانی ویا حکومت انقره می نامیم.

همه ساله جهت تجلیل از این روز پرمعنی منحیث روز دوستی ترک-افغان، وزیران امور خارجه دو کشور به تاریخ ۲۴ دسمبر ۲۰۱۰ میلادی در استانبول یک توافقنامه را به امضاء رسانیدند.

در دو سال گذشته به همین مناسبت، احساسات خویش را در مورد اهمیت این دوستی ویژه شریک ساخته بودم. در واقع، یکی از وظایف معنوی که تاریخ به شانه های هردو جانب گذاشته است، آن هم همین است که باید ارزش ها و معنی واقعی این پیوند ویژه را به نسل های جوان خود بیاموزیم و برای شان انتقال دهیم. پس اجازه دهید تا با نقاط بسا مهم در مورد تاریخ مشترک ما، ذهن جمعی مایان را تازه نمایم.

این پیوند یک پیوند یک قرن پیش نیست. اولین اثر تاریخ ترک ها به قرن ۲وم قبل از میلاد برمیگردد، زمانیکه ساکا ترک ها دولت خود را در شمال افغانستان ایجاد نموده بودند. این وضعیت با دیگر خاندان های ترک ها ادامه یافته که امپراتوری ایفتالیت ها در قرن ۵م ایجاد گردید بود و مناطق که فعلاً با نام های بلخ، تخار، کابل، غزنی، زابل و کندهار یاد می شود را تحت پوشش قرار داده بود. در قرن ۱۰هم در زمان غزنویان، در قرن ۱۱هم در زمان سلجوقی ها و در قرن ۱۲هم در زمان خارزم شاهیان، افغانستان به یکی از جاهای مهم برای جابجایی ترک ها مبدل گردیده بود. به تعقیب آن، در قرن ۱۳هم با اشغال مغلی ها، در زمان بابرشاه طول قرن های ۱٦هم و ۱۷هم ترک ها در این جغرافیا جابجا شدند.

اثر گذاری های متقابل بین ترک ها و افغان ها در طول قرن ۱۸هم با تبادل مکاتب بین احمد شاه ابدالی و یکی سلطان عثمانی ها مصطفی سوم و همچنان در اواخر قرن ۱۹هم با ارسال یک هیئت دیپلوماتیک از جانب سلطان عبدالحمید پادشاه زمان عثمانی ها به افغانستان، ادامه یافته است. در اوایل قرن ۲۰، حبیب الله خان با پیشنهاد محمود طرزی، مشاورین ترکی را به افغانستان دعوت نموده است. بدون شک، اولین شفاخانه عامه از جانب همین مشاورین در سال ۱۹۱۳ میلادی ایجاد گردیده بود.

در اواخر سال ۱۹۱۰ میلادی، محصلین افغان که در آناتولو مصروف تحصیل بودند، به جنگ استقلال ترکیه اشتراک کردند و شهید شدند. زنان افغان نیز با اهداء زیورات با ارزش شان بخاطر مبارزه استقلال ترکیه، در مشکلات مردم ترکیه همدرد شدند. زمانیکه برادران و خواهران افغان ما سخت ضرورت به کمک را داشتند و آتاترک نیز در آن زمان هنوز مصروف جنگ استقلال ترکیه بود، از ارسال تعدادی از هیئت که متشکل از داکتران، مقامات نظامی و استادان به افغانستان، اجتناب نورزیده است.

جنگ ها برای استقلال در اواخر ۱۹۱۰ و اوایل ۱۰۲۰ میلادی، هردو ملت ترک و افغان را از نگاه قلبی و از نگاه فکری باهم نزدیکتر ساخته است. آنها در همبستگی کامل اندوه و خوشی های مشابه را تجربه کردند. طوریکه غازی امان الله خان، در مراسمی که به مناسبت کامیابی ترکیه در جنگ استقلال با میزبانی او در قصر دلکشا به تاریخ ۱۰ اوکتوبر ۱۹۲۲ میلادی برگزار گردیده بود، همین خاطرنشان کرده بود: «ترک ها و افغان ها برادر اند. خوشی ترک های خوشی ما است، اندوه شان اندوه ماست.»

په انقره کې د لومړي ځل لپاره یو پرېکړه لیک چې په کابل کې د ډیپلوماتیک ماموریت پرانیستلو پورې اړوند و، پر دې اساس ، د ترکیې یو افسر ښاغلي عبدالرحمن سمدان چې په اصل کی افغان و، په ۱۹۲۰ میلادي کال کې په افغانستان کې د ترکیې د استازي په توګه وټاکل شو. د ترکیې سفارت، په کابل کې لومړنی ډیپلوماتیک ماموریت شو. ترکیه دویم هیواد و چې افغانستان یې په رسمیت پیژندلی و. افغانستان هم د انقرې حکومت په رسمیت پیژندلو دویم هیواد شو.

د ۱۹۲۱ میلادي کال د جون په ۱۰ نېټه په انقره کې د افغانستان سفارت پرانیستل شو او اتاترک پخپله د افغانستان رسمي بیرغ ته د اوچتولو زمینه مساعده کړه. امان الله خان د ۱۹۲۸ میلادي کال د مې په میاشت کې ترکیې ته د سفر لومړی هیئت ریاست درلود. ترکیې د دې لیدنې پر مهال د لومړني تخنیکي همکارۍ تړون هم لاسلیک کړ. له افغانستان سره د ترکیې نږدې همکارۍ د دویمې نړیوالې جګړې تر پیلیدو پورې دوام درلود.

له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته، ترکیې د اداري ، اردو، کلتور، تعلیم او روغتیا په برخو کې د پرمختللو دولتي جوړښتونو او عامه ادارو رامنځ ته کولو کې په افغانستان کې مهم رول ولوباوه. ترکیه تر ۱۹٦۹ میلادی کال پورې د ښوونکو، ډاکټرانو، نظامي افسرانو او نورو برخو کې کارپوهانو استولو ته دوام ورکوي. د ظاهرشاه لیدنه ترکیې ته په همدغه ویاړلي وخت کې تر سره شوه.

د ۱۹۵۷ میلادي کال د جولای په میاشت کې د ترکیې هیواد د لمړی وزیر اندنان مندیریس له کابل څخه لیدنه د ټینګ ملاتړ په مقصد تر سره کړلی شوه او وروسته هم د و لسمشر جلا بایایر لس ورځنۍ لیدنه له کابل څخه وه . په دې لیدنه کې یې همدا ډول د کندهار، هلمند، کندوز او بغلان په ګډون له ځینو سیمو هم لیدنې وکړې.

د دواړو هیوادونو تر منځ نږدې اړیکې او همکارۍ په ۱۹۷۹ میلادي کال کې د شوروي یرغل پورې دوام درلود. له ۱۹۸۹ میلادي کال وروسته ترکیې راتلونکې ډرامه له نږدې وڅارله او هڅه یې وکړه چې د خپل سفارت له لارې د سولې او ثبات هڅو کې برخه واخلي چې تر ۱۹۹٦ میلادي کال پورې یې دوام درلود.

د تیرو ۱۹ کلونو لپاره، ترکیه د افغان اردو ۴۴۵۹ افسرانو او ۹۹۱۸ پولیسو ته د روزنې لپاره د خپل تاریخ تر ټولو لویې پرمختیایي مرستې په ځانګړې توګه د تعلیم، زیربنا او روغتیا په برخو کې عملي کوي. افغانان د ترکیې بورسونو تر ټولو لویه یانې ۱۷ سلنه د زده کړو برخه جوړوي. هلته افغان زده کوونکي، ښوونځي او درې ښوونیز مزکزونه شته، چې ٦۳۰۰ کوونکي لري او موږ په پام کې لرو چې په نویو ولایتونو کې نوي ښوونځي پرانیزو. د افغانستان مختلفو برخو ته د رسېدو لپاره زموږ د هڅو د یوې برخې په توګه، موږ به په راتلونکو اونیو کې په هرات کې یوه کونسلګري پرانیزو، چې په راتلونکو کلونو کې به په کندهار کې یوه بله کونسلګري تعقیب کړو.

افغانستان له تېرو څلور لسیزو راهیسې ځورېږي. سوله اوږدمهاله ده او دا زموږ د ټولو ارمان دی. پرون، موږ د یوې تاریخي ورځې شاهدان وو چې د لاسلیک مراسم په دوحه او کابل کې په یوځل تر سره شول. دا زما په نظر سم سمت کې لومړی گام دی. سولې ته قوي لاره اوږده او له ننګونو ډکه ده. نهایي هدف باید سوله نه، مګر دوامداره او تل پاتې سوله وي.

ترکیه تل د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې پروسې ملاتړ کوي. پدې برخه کې، ترکیه چمتو ده، هرڅومره چې زموږ مرستې ته اړتیا وي، ترڅو د دوامداره سولې لاسته راوړلو هڅو کې برخه واخلي ترڅو د افغان ټولنې ټولې برخې او سیمه ایز او نړیوال فعالین ملاتړ وکړي.

# د سولې په تامین کې د ادبیاتو رول

حکمت ارین

جګړه د انساني خلقت په تاریخ کې تر ټولو شومه او بده پدیده ده چې په داستانونو او د ادیانو په روایاتو کې هم ورته په ښه سترګه نه دي کتل شوي. جګړې چې د ادم او شیطان، هابیل او قابیل له وخته بیا تر اوسه د انسانانو تر منځ روانې دي، کله د خیر او کله هم بیا د شر په بریا پای ته رسېدلې دي.

دا پدیدې د ډېرو برم لرونکو او عالي تمدنونو د سقوط لامل شوې دي او که چېرته یې دوام پیدا کړی وای، نو د انسان بشري سرنوشت ته یې بدلون ورکولی شوای؛ خو په دې وروستیو کې چې دې شومې پدیدې اقتصادي جنبه خپله کړې ده، ورځ تر بلې یې لمبې په تېزېدو دي او نړیوال قدرتونه ترې د خپلو اسانو د چاغولو لپاره کار اخلي او په ځانګړې توګه د درېیمې نړۍ هېوادونه یې د خپلو موخو قرباني کړې دي او د جګړې پر ډګر یې بدل کړي دي. دې او په سیمه بیزه کچه استخباراتي جګړو د ځینو نورو هېوادونو په څېر د افغانستان ټول بنسټونه د نړېدو له ګواښ سره مخ کړي دي، دا هغه حقیقتونه دي چې ټول یې درک کولی شي، خو په لنډ ډول د ادبیاتو په تاریخ کې د جګړې ادبیاتو ته لنډه کتنه کوو.

موږ کولی شو جګړو ته له بېلابېلو زاویو وګورو چې ښکاره نمونه یې د امیر کروړ او خوشحال بابا په اشعارو کې لیدلی شو، خو دا هم اړینه ده چې ووایو وخت او زمان ته په کتو د جګړې ماهیت هم توپیر کوي، ځکه خلک د جګړې له ماهیته خبرېږي او پوهېږي چې روانه جګړه د څه لپاره او د چا له لوري روانه ده، چا مشروعیت ورکړی دی او بلاخره ټول پوهېږي چې څوک په حقه او څوک ناحقه دي؛ خو دا چې په نړۍ کې د جګړو د ترویج او سولې لپاره څه کارونه شوي دي، دلته ورته تمېږو.

د تاریخ په اوږدو کې موږ داسې اثار لرو چې د جګړو او فتوحاتو د توصیف لپاره شاعرانو او لیکوالانو خپلو بادارانو ته د خوش خدمتۍ او چاپلوسۍ لپاره لیکلي دي او د جګړې قومندانان او یا هم د یو سپه سالار او جنګ غوښتونکو صفات یې پکې لیکلي دي. بلخوا که وګورو موږ ته د اسلامي دورې له وخته هم د فتوحاتو او مسلمانو مجاهدینو څخه ځینې حقیقي اثار په میراث پاتې دي چې له بده مرغه باید وویل شي اوس هم ترې د جګړو د ترویج او مشروعیت لپاره پرته له دې چې د موضوعاتو او جګړې ماهیت ته عمیقه کتنه وشي، استفاده کېږي او ځوانان د جګړو لپاره هڅول کېږي.

اوس پوښتنه دلته ده چې په دې حساس پړاو کې د لیکوالانو او د جګړې د ښکېلو اړخونو لپاره د سولې ادبیات څومره مهم دي؟

پرون له نیکه مرغه له کلونو کلونو وینې تویېدنې وروسته په قطر کې د طالبانو او متحده ایالاتو تر منځ د سولې تړون لاسلیک شو، ښه خبره خو دا ده چې د تاوتریخوالي کمښت به دوام کوي او بین الافغاني مذاکراتو ته به لار هوارېږي.

دا ښکاره خبره ده چې د سولې ادبیاتو مراعاتول د جګړې روحیه تضعیفولی شي او د یو بل پر وړاندې مو له پارولو راګرځوي، نو لکه څنګه چې پوهېږو دا یوه شخصي لوبه نه ده، سوله د ځورېدلي، کړېدلي او دردېدلي ۳۵ میلیونه افغاني ملت اساسي او لومړنۍ غوښتنه ده، نو افغانانو ته پکار ده چې خپلې شخصي عقدې یوې خوا ته کړي او په هېواد کې د تلپاتې سولې لپاره ملي دریځ خپل او د سولې په اړه خپلو خبرونو، راپورونو او لیکنو کې یو بل ته له پېغور ورکولو څخه په کلکه ډډه وکړي او په هېواد کې د تلپاتې سولې لپاره که نور څه نشي کولی، حد اقل خپل ادبیات اصلاح او د دښمن، مزدور، ګوډاګي او نورو کلمو څخه په کلکه ډډه وکړو.

وصلح خیر

# د امریکا- طالبانو تر منځ د سولې تړون په اړه د ملاهیبت الله پیغام

له متحده ایالاتو سره د اشغال د خاتمې د توافق په اړه د افغانستان اسلامي امارت د زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هیبة الله اخند زاده ( حفظه الله) پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلَّه كَثِيرًا وَسُبْحَانَ اللَّه بُكْرَةً وَأَصِيلًا.

الحمدلله الذي صدق وعده ونصر عبده و اعز جنده وهزم الأحزاب وحده والصلوة والسلام علی من لانبي بعده وعلی اله و اصحابه الذین نشروا دینه، اما بعد:

د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۷مه چې زموږ په خاوره د امریکا په مشرۍ ائتلاف تجاوز کړی و، اسلامي امارت د الله تعالی په نصرت، د افغان میړني ولس په استازولۍ په دې وتوانید چې له شاوخوا نولسو کلونو جهاد او مبارزې وروسته بالآخره له افغانستان څخه د اشغال د خاتمې لپاره توافق ته ورسیږي.

دا بریا د ټول مسلمان او مجاهد ولس، ورونو او خویندو مشترکه بریا ده چې نږدې دوه لسیزې یې په سر او مال خورا درنې او تاریخي قربانۍ ورکړې دي.

له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او په راتلونکي کې د هیڅ ډول مداخلې د نه کولو توافق یوه لویه بریا ده.

اسلامي امارت د دغې سترې کامیابۍ په مناسبت د ولس بېلابېلو اقشارو، په خاص ډول مجاهدینو، د شهیدانو کورنیو، زندانیانو، ټپیانو، معیوبینو، مهاجرینو او ټول ولس ته د زړه له کومې مبارکي وایي او دا خورا لویه فتحه د الله تعالی د نصرت او د مجاهدینو د سرښندنو، د خپل ملت د اخلاص، هلو ځلو، سترړیاوو او قربانیو نتیجه بولي.

غواړم له دغې سترې بریا څخه د را وروسته حالاتو په اړه د مجاهدینو او ټول ملت توجه لاندې ټکو ته را واړوم:

۱ـ له امریکایي جهت سره د اشغال د پای ته رسیدو په سر توافق چې په نتیجه کې یې زموږ ولس له اشغال څخه نجات پیدا کوي، خورا مهمه بریا او د الله تعالی ځانګړی احسان، نصرت او لوی انعام دی. موږ باید دا کامیابي د چا کمال ونه بولو؛ بلکې د الله تعالي انعام او د ټول مجاهد ولس د قربانیو محصول یې وګڼو.

۲- د اسلامي امارت له خوا له امریکایي جهت سره شوي توافقات چې د شرعي اصولو په پام کې نیولو سره تر سره شوي او له نړیوالو معیارونو سره هم برابر دي، د ټولو مجاهدینو او افغان ولس له خوا عهد او وعده شوه چې په ټولو باندې یې عملي کول لازم دي. د اسلامي امارت هیڅ یو مسوول او فرد او په مجموع کې هیڅ هیوادوال باید د دغو توافقاتو نقض ونه کړي او په دې اړه ټول ځانونه مکلف وبولي، ځکه په اسلام کې غدر او فریب ځای نه لري او لویه ګناه بلل کیږي، البته که د مقابل لوري له خوا د توافقنامې مخالفت او نقض وشي، نو ټول ولس به بیا هم د تیر په څیر کلکې دفاع ته آماده وي.

۳ـ د افغانستان مسلمان ملت خصوصاً مجاهدین به د تر لاسه شوو بریاوو په اړه د الله تعالی شکر ادا کوي، ځانونه به لا ډېرې تقوا، امانتدارۍ او دیانت ته متعهد بولي، له تکبر، غرور، پر نورو ځان بهتره ګڼلو او ځان مستحق یا ممتاز بللو څخه به په کلکه ځان ساتي، ځکه دا د جهاد او فتحې له روح سره په تضاد کې دي.

۴ ـ له امریکایي جهت سره بریالیو مذاکراتو ثابته کړه چې هر ور پیچلو موضوعاتو ته حللاره موندل کیدای شي، د دې مذاکراتو بریا د اسلامي امارت له اړخه ټولو داخلي اړخونو ته دا پییغام لېږدوي چې موږ د یوه معقول او عادلانه حل لپاره چمتو یو، را ځئ د خپل ولس د دیني او ملي معیارونو په رڼا کې د مسائلو د حل لپاره تلاش وکړو، د کابل اداره دې هم د ولس له مخالفته لاس واخلي.

۵ ـ اسلامي امارت د ټولې نړۍ او په تېره بیا د سیمې له هیوادونو سره په دوه اړخیزو مثبتو اړیکو باور لري او له ګاونډیانو سره د ښه ګاونډیتوب اصولو ته ژمن دی.

٦ـ موږ خپل ځورېدلي ولس ته ډاډ ورکوو چې د عادلانه او واقعي اسلامي نظام په سیوري کې به د هیواد ټولو نارینه او ښځینه وو ته د هغوی حقه حقوق ورکول کیږي.

۷ـ د اسلامي امارت په مخالفت کې چې چا برخه اخیستې وي او په عموم کې هر هغه څوک چې له اسلامي امارت څخه تشویش لري، زموږ له طرفه په تېرو ټولو اعمالو ورته عفوه او بخشش دی، د راتلونکي لپاره ورته د اسلامي اخوت، ملي وحدت او ښه ژوند غوښتونکي یو.

۸ ـ اسلامي امارت به د معیاري (دیني او عصري) تعلیم، کار، تجارت، ترقۍ، آبادۍ او په ټولو اجتماعي برخو کې د پرمختګ زمینه سازي کوي، ځکه دا د افغانانو بنیادي حق او زموږ د هیواد د پرمختګ او د ولس د ښیرازۍ او هوسایۍ لپاره حیاتي او لازمي اړتیا ده.

۹ـ د اسلامي امارت مجاهدین دې خپل صفونه نور هم منظم، فعال او پیاوړي کړي څو خپل لوی هدف ته چې د اشغال د بشپړې خاتمې وروسته د اسلامي نظام قیام او د ولس سوکالي ده ورسیږي او په راتلونکي کې د هر ډول بدو پېښو مخنیوی، د اسلامي نظام حفاظت او د سرتاسري سولې او امن د ټینګېدو په لاره کې له احتمالي خطرونو سره مقابلې او د ولس خدمت ته چمتو وي.

۱۰ ـ اسلامي امارت د مؤمن ولس له بېلابېلو اقشارو علماء کرامو، قومي مخورو، منورینو، پوهانو، استادانو، شاګردانو او عام ولس څخه غوښتنه کوي، لکه څنګه چې د اشغال د خاتمې په کار کې په پوره اخلاص د خپلو مجاهدینو ورونو سره ودرېدل، دغه راز د داخلي موضوعاتو د حل په برخه کې هم خپل اتحاد او همکاري جاري وساتي، څو دغه پړاو هم د بریا منزل ته ورسیږي او افغانستان له عادلانه اسلامي نظام او سولې څخه برخمن شي.

۱۱ - په اخر کې د قطر هیواد او د هغه له محترم امیر شیخ تمیم بن حمد آل ثاني څخه مننه کوم چې د مذاکراتو لپاره یې سهولتونه برابر کړي او په اخلاص سره یې له دې پروسې سره مرسته کړې ده. همدارنګه، د پاکستان، ازبکستان، چین، ایران، روسیې، اندونیزیا، ترکمنستان، کرغیزستان، عربي متحده اماراتو او نورو ټولو هغو هیوادونو څخه چې د مذاکراتو په بهیر کې یې مرسته کړې، مننه کوم او کور ودانی ورته وایم.

والسلام

د افغانستان اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین
شیخ الحدیث مولوي هیبة الله اخند زاده
۱۴۴۱/۷/۵هـ ق
۱۳۹۸/۱۲/۱۰هـ ش ــ ۲۹/۲/۲۰۲۰م

# د افغانستان لپاره تاریخي هوکړه؛

## بین الافغاني خبرې پیلېږي او په څوارلسو میاشتو کې به ټول بهرني ځواکونه وځي




له نږدې یوه کال سفرونو، بحثونو، خبرو او کنفرانسونو وروسته، امریکا او طالبانو پرون د سولې هوکړه لاسلیک کړه. دوی په هوکړه کې پر مهمو مسایلو توافق کړی دی او د طالبانو مشر له خپلو وسله والو غوښتي چې د هوکړې موادو ته ژمن پاتې شي. د دې تر څنګ، په کابل کې هم د افغان حکومت، امریکا او ناټو له لوري ګډه اعلامیه خپره شوه او په هغه کې د دریو واړو لورو تر منځ د همکاریو پر دوام او ملاتړ خبرې شوې دي.

پرون د فبرورۍ په ۲۹مه د افغانستان لپاره خورا تاریخي ورځ وه. په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه او په کابل کې بیا د ناټو، افغان حکومت او امریکا له لوري ګډه اعلامیه خپره شوه. د طالبانو په هوکړه کې راغلي چې بهرني ځواکونه به له افغانستانه وځي، افغان خاوره به د هیڅ بهرني هېواد پر وړاندې نه کارول کېږي، طالب زندانیان به ازادېږي او بین الافغاني خبرې به پیلېږي.

د اعلامیې له مخې، افغان لوری به د مارچ تر لسمې چې د بین الافغاني خبرو لپاره د پیل نېټه ټاکل شوې، پنځه زره طالب بندیان ازادوي. په مقابل کې به یې طالبان هم د افغان حکومت زر کسه بندیان ازاد کړي. همدا راز به امریکا په ۱۳۵ ورځو کې خپل ځواکونه په افغانستان کې له څه باندې ۱۲ زرو عسکرو ۸۶۰۰ کسانو ته راټیټوي او تر څنګ به یې له پنځو نظامي اډو خپل پوځیان وباسي. همدا راز په توافق کې راغلي چې د امریکا نور متعهدین به هم د خپلو ځواکونو کمولو ته ادامه ورکوي او په دې توګه به د مهالوېش له مخې، بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي. همدا راز د توافق له مخې امریکا بیا ژمنه ده چې په ۱۴میاشتو کې خپل ټول ځواکونه له افغانستانه وباسي. د امریکا متعهدین هم اړ دي چې د دې هوکړې له مخې په نهه نیمو میاشتو کې خپل ټول سرتېري له افغانستانه وباسي.

په هوکړه کې د بندیانو د خوشې کولو په اړه هم خبرې شوې دي. هوکړه شوې چې بندیان به د هوکړې له موادو سره سم ازادېږي او دغه خوشې شوي بندیان به د هېڅ لوري امنیت ته ګواښ او خطر نه پېښوي.

طالبانو همدا راز له امریکا غوښتي چې دغه هوکړه به په امنیت شورا کې تاییدوي او همدا راز به امریکا له طالبانو سره د نوي حکومت د جوړېدو پر مهال خپلې همکارۍ جاري ساتي. دوی هوکړه کړې چې له امریکا سره به د دوی اړیکې دوستانه وي، خو امریکایي لوری به د افغانستان په چارو کې هېڅ راز مداخله نه کوي.

د طالبانو مشر ملا هیبت الله اخند بیا په یوه اعلامیه کې د دې هوکړې لاسلیک ستره بریا بللې ده. ده پر خپلو وسله والو غږ کړی چې په هېڅ صورت دغه هوکړه ماته نه کړي او ټولو موادو ته یې ژمن پاتې شي. ملا هیبت الله پر خپلو کسانو دا غږ هم کړی چې د راتلونکو اقداماتو لپاره دې خپلې لیکې پیاوړې وساتي.

د هوکړې له مخې به بین الافغاني خبرې د مارچ په لسمه نېټه پیلېږي او په هغه کې به د راتلونکي حکومت پر څرنګوالي او دغه راز دایمي اوربند باندې خبرې کېږي.

بلخوا په کابل کې هم ګډه اعلامیه خپره شوه. ولسمشر غني وویل چې سوله دوی ته لومړیتوب دی او د سولې لپاره هڅې کوي. همدا راز یې ټینګار وکړ چې د سولې خبرې به مخ ته وړي او د افغانستان ملي ګټې ورته سرې کرښې دي. د امریکا د دفاع وزیر بیا پر طالبانو غږ وکړ چې د تاوتریخوالي کموالي ته ادامه ورکړي او تر څنګ یې هوکړې ته ژمن پاتې شي. د ده په خبره، که طالبانو هوکړه ماته کړه، دوی به یې پر وړاندې اقدام وکړي.

# گوترېش: د سوریې په شمال کې د وروستي کړکیچ د څېړنې په موخه سیمې ته پلاوی استوو

د سوریې په شمال کې د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ له وروستیو کړکېچونو وروسته، ملګرو ملتونو ویلي چې د دغو کړکېچونو د څېړنې په موخه سیمې ته پلاوی استوي.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوترېش ویلي، چې د دغه پلاوي د استولو موخه د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ د وروستیو خونړیو نښتو او بریدونو په اړه هر اړخیزه پلټنه ده.

که څه هم نوموړي د دغه پلاوي د استولو نېټه په ډاګه نه کړه، خو ځینو سرچینو اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس ته ویلي، چې دغه پلاوی به راتلونکې اونۍ د سوریې شمال ته ولېږل شي چې د ملګرو ملتونو د بېلابېلو برخو استازي به پکې شامل وي.

ګوترېش ویلي چې د سوریې په شمال کې روانه ناخوالي او کړکېچ له نږدې څاري او په خبره یې که دغه حالت دوام وکړي، ښايي هلته وضعیت له کنټروله ووځي.

هغه ویلي: «له ښکېلو غاړو سره په اړیکه کې یم، دوی ته مې د روان وضعیت په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړې او که دغه حالت دوام کوي، پړه به یې پر دواړو لورو وي.»

د سوریې په شمال کې د سوري او ترکي ځواکونو تر منځ وروسته له هغې کړکېچ پراخ شو، چې د سوریې په هوایي بریدونو کې په ادلیب کې د ترکیې ۳۴ سرتېري ووژل شول او په لسګونو نور ټپیان شول. په ورته وخت کې د ترکیې د پوځ په ځوابي بریدونو کې ډېر سوري ځواکونه هم وژل شوي دي.

بلخوا د سوري ځواکونو له دغه برید وروسته ترکیې د سوریې کډوالو ته اجازه ورکړې چې اروپایي هېوادونو ته ولاړ شي.

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د شنبې په ورځ ویلي چې ترکیه د جنګ ځپلې سوریې د کډوالو نوې څپه نشي زغملی. هغه زیاته کړې چې دغو کډوالو ته به اجازه ورکړي چې نورو اروپایي هېوادونو ته ولاړ شي. اردوغان ویلي: «موږ دروازې خلاصې کړې. موږ به بیا دا دروازې ونه تړو... ولې؟ ځکه چې باید اروپایي ټولنه خپلې ژمنې پوره کړي.»

د یادونې ده چې اروپایي ټولنې له ترکیې سره یو تړون لاسلیک کړی و چې له مخې به یې ترکیه د سوریې کډوال په خپله خاوره کې ساتي او د اروپا نورو هېوادونو ته به یې نه پرېږدي، خو اوس ترکیه وایي چې دا کار نور نشي کولی.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟




• خپلې پیسې وګټئ!
څوک چې خپله شتمني ګټي، نو د نورو شتمنیو ته هم ارزښت ورکوي او درناوی یې کوي او که دوی یې پخپله ګټي، نو بیا یې ډېرو ښو پایلو ته هم په تمه وي.
• دقیق او رښتیني اوسئ!
یو ځل وګورئ چې ټولې مالي معاملې مو سمې او دقیقې دې که نه. دا کار یوازې د نورو لپاره مه کوئ، بلکې د ځان لپاره یې هم وکړئ. بي سي فوربس ویلي:((هوښیار انسان هغه دی چې په حلالو لارو د پیسو ګټلو هڅه وکړي. په نړۍ کې د پیسو لپاره ډېر ارزښتمن کارونه وکړي. نه یوازې د خپل ځان لپاره، بلکې د نورو لپاره. خو هغه بیا مطلق ناپوه دی چې یوه داسې شببه تصور کولای شي چې د پیسو ګټلو لپاره اړینه ده؛ خو د رښتینولۍ لپاره نه ده.))
• سخاوت کوئ!
یوه وینا ده چې موږ څه ترلاسه کوو، په هغه ژوند کوو او څه چې نورو ته ورکوو، په هغه ژوند جوړوو. ورکړه یوازې له نورو سره مرسته او د ځان هوساینه نه ده، بلکې د پیسو په اړه زموږ لیدلوری هم تر نورو شیانو ښه جوړولای شي.
• پور لږ او په دقت وکاروئ!
سلیمان علیه سلام نصیحت کوي چې:((شتمن د نېستمنو پاچا وي او قرضدار د قرض ورکوونکي غلام.)) ۷ نو که ازادي او خپلواکي غواړئ، ځان له پورونو وساتئ.
تر دې لوړ درناوی او مهمه خپلواکي نشته چې انسان په خپله خوښه ژوند وکړي.
کالوین کولیج
ولسمشر کالوین کولیج ویلي:((تر دې لوړ درناوی او مهمه خپلواکي نشته چې انسان په خپله خوښه ژوند وکړي.)) که انسان له پیسو سره سم چلن زده کړي، یانې پیسې د ده په قابو کې وي، دی د پیسو په قابو کولو کې نه وي، نو دا د انسان په ژوند کې د کرکټر ډېرو نورو ښېګڼو ته لاره هواروي.
۷. کورنۍ تر کار مخکې کړئ!
مشر جورج بوش ډېر زیات په زړه پورې القاب او موقفونه درلودل: د امریکا د کانګرس غړی، په ملګرو ملتونو کې استازی، په چین کې د همکارۍ ستر مامور، د CIA مشر، د امریکا د متحده ایالاتو د ولسمشر مرستیال او بلاخره د متحده ایالاتو ولسمشر... . خو په دولتي دفترونو کې یې چې کار ختم شو، نو وې ویل چې زه اوس هم درې مهم موقفونه لرم: مېره، پلار او نیکه. د کورنۍ په اړه دا ډېر ستر لیدلوری دی.
له بده مرغه، زموږ په کلتور کې زیاتره خلک کورنۍ په دې خاطر ځنډې ته کوي چې فکر کوي، د کاري شخصیت په برخه کې باید پرمختګ وکړي. د طلاق ګراف لوړېږي. زیاتره کورنۍ د خپلو بچو د روزلو لپاره مالي امکانات نه لري. هر کال له ۲۰ تر ۳۰ میلیارده ډالره د هغو ماشومانو په ملاتړ لګېږي چې مور او پلار یې له مالي پلوه نه شي پاللی. ۸ خو په اوږدمهال کې خپله کورنۍ لومړیتوب ټاکل ستاسو کاري شخصیت نه زیانمنوي، بلکې مرسته ورسره کوي. د NBA لوبډلې روزونکی پاټ رایلي وایي:((خپله کورنۍ د اوږدمهال لپاره ساتل په دې مانا ده چې خپل بریالیتوب د اوږدمهال لپاره ساتئ. لومړي څیزونه لومړي کړئ. که ستاسو کورنۍ ښه وي، هر څه کولای شئ.)) قوي او باثباته کورنۍ ستاسو د کاري شخصیت په لړ کې نورو بریاوو ته لاره برابروي او په پای کې د دمې لپاره مناسب ځای درته جوړوي.
۸. خلکو ته لوړ ارزښت ورکړئ!
خلک چې د کرکټر جوړولو فکر کوي، نو پر دې ډېر تمرکز کوي چې څه باید ترې جوړ شي. دا ښه ده، ځکه د پروسې ډېره برخه همدا ده؛ خو که غواړئ چې ځان له زرینو فرصتونو ګټې اخیستو ته تیار کړئ، بیا به لږه نور خواري هم کوئ. تاسو باید نورو ته دومره ارزښت ورکړئ چې خپله یوه برخه (باور) ورکړئ. همدا د زرین اصل قانون اصل او اساس دی.
وولف جی. رېنک په خپل کتاب «د بریالیتوب مدیریت» کې وایي:((که پر خپلو کارکوونکو باور ونه کړئ، نو ۳٪ سلنه وخت به پر حقه یئ؛ خو که پر خلکو تر هغې باور وکړئ چې د بې باورۍ دلیل در نه کړي، نو ۹۷ سلنه وخت به پرحقه یئ.)) دا ډېره ښه خبره ده.
که پر خپلو کارکوونکو باور ونه کړئ، نو ۳٪ سلنه وخت به پر حقه یئ؛ خو که پر خلکو تر هغې باور وکړئ چې د بې باورۍ دلیل در نه کړي، نو ۹۷ سلنه وخت به پرحقه یئ.
وولف جی. رېنک
ما چې پر دې کتاب کار پیل کړ، لومړۍ خبره مې له مایک ابراشوف سره وکړه. ده خپله یو کتاب لیکلی دی چې«دا ستا خپله بېړۍ ده، په بحري ځواک کې له تر ټولو ښې بېړۍ د مدیریت لارې چارې » نومېږي. ما زموږ په شرکت کې د یوې وینا پر مهال ورسره وپېژندل. مایک داسې انسان و چې تل به زرین فرصت ته چمتو و او د زرین قانون په عملي کولو یې ډېر بریالیتوبونه ترلاسه کړي وو. **دوام لري...**

# په افغانستان کې د سولې راوستلو لپاره د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالاتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، او د امریکا متحده ایالاتونو تر منځ توافقنامه

۵/ رجب/۱۴۴۱ هـ ق- ۱۰- حوت ۱۳۹۸ هـ ش-۲۹/ فبروري/۲۰۲۰ م
د هر اړخیزې سولې توافقنامه لـه څلور برخو جوړېږي:
۱- هغه تضمینونه او د تنفیذ میکنانیزمونه چې د هرې ډلې یا شخص لخوا د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت په خلاف د افغانستان د خاورې د کارولو څخه مخنیوی وکړي.
۲- له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره تضمینونه، د تنفیذ میکانیزمونه او د یوه مهال وېش اعلان.
۳- د نړیوالو شاهدانو په حضور کې د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو د تضمینونو او د مهال وېش تر اعلان وروسته او د نړیوالو شاهدانو په حضور کې ددې تمصینونو او اعلان سره چې د افغانستان خاوره به د متحده ایالاتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت په خلاف نه کارول کېږي، د افغانستان اسلامي امارت، چې د متحده ایالاتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، به له افغان جهتونو سره په ۱۵/رجب/۱۴۴۱ هـ ق- ۲۰/حوت/۱۳۹۸ هـ ش -۱۰/ مارچ/ ۲۰۲۰ م تاریخ بین الافغاني مذاکرات پیل کړي.
۴- دایمي او هر اړخیز اوربند به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو په اجنډا کې یوه موضوع وي. د بین الافغاني مذاکراتو ګډونوال به د تطبیق د ګډو میکانیزمونو په شمول د یوه دایمي او هر اړخیز اوربند په نېټې او څرنګوالي بحث وکړي، او د افغانستان د راتلونکې سیاسي نقشې له بشپړیدا او توافق سره به یې دیوې برخې په توګه اعلان کړي.
پورتنۍ څلور برخې یو له بلې سره مرتبطې دي او هره برخه به د توافق شوي مهال وېش او توافق شویو موادو مطابق تطبیق شي. پر لومړنیو دوو برخو توافق دوو وروستیو برخو ته لار پرانیزي.
لاندې د توافق نامې هغه متن دی چې د پورتنۍ لومړۍ او دوهمې برخې تطبیق بیانوي. دواړه غاړو توافق کړی چې دغه دوې برخې یو له بل سره تړلې دي. په دې توافق نامه کې به د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالاتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني مسوولیتونه په هغو سیمو کې وي چې د دوی تر ولکې لاندې دي، تر هغه چې د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړ جاړې وروسته نوی افغان اسلامي حکومت جوړ شي.

### لومړۍ برخه

متحده ایالاتونه ژمنه کوي چې د متحده ایالاتونو، متحدینو او د ائتلافي شریکانو ټول نظامي ځواکونه، د ټول غیر دیپلوماتیک ملکي پرسونل، شخصي امنیتي قراردادیانو، روزونکو، مشاورینو او د حمایوي خدماتو پر سونل په ګډون ددې توافق نامې له اعلان سره سم په څوارلسو (۱۴) میاشتو کې له افغانستان څخه وباسي، او په دې اړه به لاندني اقدامات کوي:
الف: متحده ایالاتونه د هغوی متحدین او ائتلاف به په لومړیو یو سل او پنځه دېرس (۱۳۵) ورځو کې لاندني اقدامات کوي:
۱- په افغانستان کې د متحده ایالتونو د ځواکونو شمېر به اته زره او شپږ سوه (۸۶۰۰) ته راټیټوي او په ورته اندول کې به د هغوی د متحدینو او ائتلافي ځواکونو په شمېر کې کمښت راولي.
۲- متحده ایالتونه، د هغوی متحدین او ائتلاف به خپل ځواکونه له پنځو (۵) نظامي اډو څخه باسي.
ب: ددې توافق نامې په دوهمه برخه کې شته مسوولیتونو ته د افغانستان اسلامي امارت، چې متحد ایالاتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، د ژمنتیا او عمل سره به متحده ایالاتونه، د هغوی متحدین او ائتلاف لاندني اقدامات تر سره کوي:
۱- متحده ایالاتونه، د هغوی متحدین او ائتلاف به له افغانستان څخه د خپلو ټولو پاتې ځواکونو وتل په پاتې نهه نیمو (۹/۵) میاشتو کې بشپړ کړي.
۲- متحده ایالتونه، د هغوی متحدین او ائتلاف به خپل ټول ځواکونه له پاتې اډو څخه باسي.
ج: متحده ایالتونه داعتماد جوړولو د یوه اقدام په توګه ژمن دي چې د ټولو اړونده طرفونو په هماهنګۍ او تایید سملاسي له ټولو طرفونو سره پر یوه پلان سملاسي کار پیل کړي چې جنګي او سیاسي بندیان په چټکۍ خوشي شي. تر پنځه زره (۵۰۰۰) پورې د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالاتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، بندیان، او تر زرو (۱۰۰۰) پورې د بلې غاړې بندیان به په ۱۵/ رجب/ ۱۴۴۱ ه ق- ۲۰/ حوت/۱۳۹۸ ه ش- ۱۰/ مارچ ۲۰۲۰ م تاریخ، د بین الافغاني مذاکراتو لومړۍ ورځې پورې خوشي شي. اړوند طرفونه دا هدف لري په ور پسې دریو میاشتو کې پاتې ټول بندیان خوشي شي. متحده ایالاتونه ددغه هدف د بشپړولو ژمنه کوي.
د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، ژمنه کوي چې د هغوی خوشي شوي بندیان به په دغه توافق نامه کې شومسوولیتونو ته ژمن وي او د متحده ایالاتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته به ګواښ نه پېښوي.
د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره به متحده ایالتونه د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، د غړو په خلاف د متحده ایالتونو د او سنیو بندیزونو او د جایزې لېست د اداري بیا کتنې بهیر په دې هدف پیل کړي چې دغه بندیزونه به د ۸/ د محرم/ ۱۴۴۲ هـ ق – ٦/ سنبله/ ۱۳۹۹ هـ ش- ۲۷/ اګست/۲۰۲۰م تاریخ پورې لرې کړي.
هـ: د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره به متحده ایالتونه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له نورو غړو او افغانستان سره په دې هدف دیپلوماتیکې هڅې پیل کړي چې د ٦/ شوال/۱۴۴۱ هـ ق – ۹/جوزا/ ۱۳۹۹ هـ ش/ ۲۹/ مې/ ۲۰۲۰م تاریخ پورې د بندیزونو له نوملړ څخه د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پېژني د غړو نومونه وایستل شي.
و: متحده ایالتونه او متحدین به یې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکۍ په ضد له ځواک او ګواښ څخه کار نه اخلي او نه به یې په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.

### دویمه برخه

ددې توافقنامې له اعلان سره سم به د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، لاندیني اقدامات ترسره کړي تر څو د القاعدې په شمول د هرې هغې ډلې یا شخص مخنیوی وکړي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي.
۱- د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني ، په خپل هیڅ غړي او د القاعدې په شمول هیڅ ډلې او یا فرد ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته ګواښ پېښ کړي.
۲ - د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به یو څرګند پیغام ولیږي چې هر هغه څوک چې متحده ایالتونو او د هغوی متحدینو ته امنیتي ګواښ پېښوي په افغانستان کې ځای نه لري، او دافغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پېژني به خپلو غړو ته لارښوونه وکړي چې له هغو ډلو او افرادو سره همکاري ونه کړي چې متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي.
۳- د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني به په دغه توافقنامه کې د شویو ژمنو مطابق په افغانستان کې د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت له ګواښلو څخه د هرې ډلې یا فرد مخنیوی کوي، او له جلب وجذب، روزنې او بسپنې ټولولو څخه به یې منع کوي او کوربه توب به یې نه کوي.
۴- د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، ژمنه کوي چې له هغو کسانو سره چې په افغاستان کې پناه اخلي یا د استوګنې غوښتنه کوي، د مهاجرت د نړیوالو قوانینو او په دغه توافقنامه کې د شوو ژمنو سره سم چلند کوي، ترڅو دغه ډول افراد د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته ګواښ پېښ نه کړي.
۵- د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، به هېڅ یوه بهرني وګړي ته چې د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي، ویزه، پاسپورت، د سفر جواز او نور قانوني اسناد ورنه کړي چې افغانستان ته داخل شي.

### درېیمه برخه

۱- متحده ایالتونه به د ملګرو ملتونو د امنیت شورۍ لخوا د دې توافقنامې په رسمیت پېژندلو او تائید غوښتنه کوي.
۲- متحده ایالتونه او د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، یو له بل سره مثبتې اړیکې غواړي او هیله لري چې د متحده ایالتونو او د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړې وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت ترمنځ اړیکې مثبتې وي.
۳- متحده ایالتونه به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړې وروسته د نوي اسلامي حکومت لپاره د بیا رغولو اقتصادي مرستې وغواړي، او په کورنیو چارو کې به یې لاسوهنه نه کوي.
دغه توافقنامه چې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لیکل شوې ده، د قطر په پلازمینه دوحه کې په ۵/رجب/۱۴۴۱ هـ ق- ۱۰/حوت/۱۳۹۸ هـ ش – ۲۹/ فبروري/۲۰۲۰م لاسلیک شوه، درې واړه متنه یې مساوي اعتبار لري.

---

سفیر زلمی خلیلزاد

د افغانستان د سولې لپاره د متحده ایالتونو ځانګړی استازی

---

ملاعبدالغني برادر

د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر رئیس

# په افغانستان کې د سولې د ټينګښت په اړه د افغانستان اسلامي جمهوريت او امريکا متحده اياالتو ګډه اعلاميه

شنبه ۱۰/۱۲/۱۳۹۸ - ۱۱:۱۵

د افغانستان اسلامي جمهوريت چې د ملګرو ملتونو غړی دی او د امريکا متحده اياالتو او نړيوالې ټولنې له خوا د نړيوالو قوانينو له مخې د يوه خپلواک دولت په توګه په رسميت پېژندل شوی دی، دا هيواد (افغانستان) او د امريکا متحده اياالت ژمنه کوي چې په افغانستان کې د يوې پراخ بنسټه او دوامداره سولې د توافق لپاره به په ګډه کار کوي، څو دغه توافق د ټولو افغانانو د ګټې او له سيمه ييز ثبات او نړيوال امنيت سره د مرستې لپاره، په افغانستان کې جګړه پای ته ورسوي.

د پراخ بنسټه او دوامداره سولې توافق به څلور برخې لري.

۱ـ دا تضمين چې د افغانستان له خاورې به هيڅ ډول نړيوالې تروريستي ډلې يا افراد، د متحده اياالتو او د هغوی د متحدينو امنيت ته ګواښ نه جوړوي.

۲-له افغانستان څخه د ټولو امريکايي او ائتلافي ځواکونو د وتلو لپاره مهال وېش.

۳- د افغانانو تر منځ د مذاکراتو او د افغانستان اسلامي جمهوريت له خوا د يوه ټول شموله مرکچي ټيم له لوري له طالبانو سره د خبرو اترو په نتيجه کې سياسي توافق ته رسېدل.

۴-تلپاتې او پراخ بنسټه اوربند.

دا څلور برخې له يو بل سره اړوند او له يو بل سره تړلې دي. تر کلونو جګړې وروسته سوله راوستل، د هغو ټولو خواو د هدف څرګندونه کوي چې له خپلو ځانونو او ګاونډيانو سره د يوه سوله ييز، خپلواک او يو موټي افغانستان لپاره يې هلې ځلې کړې دي.

د افغانستان اسلامي جمهوريت او د امريکا متحده اياالت له ۲۰۰۱ م کال راهيسې په خپلو کې نږدې همکاري لري، څو نړيوال امنيت او سولې ته د پېښو ګواښونو پر وړاندې مبارزه او له افغان ولس سره د يوه امن، ډيموکرات او روښانه راتلونکي په برابرولو کې همکاري وکړي.

دواړه هيوادونه خپلو اوږدمهالو اړيکو او هغو پانګونو ته ژمن دي چې په افغانستان کې د ډيموکراتيکو نورمونو او د هيواد د يووالي د ساتنې او خونديتوب، د ټولنيز او اقتصادي پرمختګ او د اتباعو حقونو د ترويج لپاره پر اړينو افغاني بنسټونو يې کوي. دلته شوې ژمنې د همدې ګډو لاسته راوړنو پر اساس ممکنې شوې دي. افغان او امريکايي ځواکونه ګډ تعهد او اړيکې لري چې د کلونو د زياتو قربانيو او زړورتيا په نتيجه کې تر لاسه شوي دي.

د افغانستان اسلامي جمهوريت او افغان ولس يو ځل بيا له سولې خپل ملاتړ او د جګړې پای ته رسولو لپاره خبرو اترو ته خپله لېوالتيا څرګندوي.

د افغانستان اسلامي جمهوريت د تاوتريخوالي د کمښت د دورې استقبال کوي او د طالبانو او متحده اياالتو تر منځ هغه تړون ځاري چې د جګړې ختمولو لپاره مهم ګام دی.

د امريکا او طالبانو توافق پر يوه سياسي جوړجاړي او پراخ بنسټه اوتلپاتي اوربند، د افغانانو تر منځ خبرو اترو ته لاره هواروي.

د افغانستان اسلامي جمهوريت په دغه شان خبرو اترو کې د ګډون او په نتيجه کې يې له طالبانو سره اوربند ته پر خپل چمتووالي ټينګار کوي.

د افغانستان اسلامي جمهوريت دغه راز پر خپلو کړو ژمنو ټينګار کوي چې د القاعدې او د داعش ډلې خراسان څانګې په ګډون، هېڅ نړيوالې تروريستي ډلې يا افراد نه پرېږدي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده اياالتو، د هغوی متحدينو او نورو هيوادونو ته ګواښ پېښ کړي. د افغانستان اسلامي جمهوريت د سولې هلو ځلو ګړندي کولو لپاره په هغه صورت کې چې طالبان له امريکا سره پر شوي توافق او د بين الافغاني مذاکراتو په نتيجه کې پر شوې موافقې باندې عمل وکړي، له افغانستان څخه په تدريجي ډول د امريکايي او ائتلافي ځواکونو له وتلو ملاتړ کوي.

پر همدې اساس د افغانستان اسلامي جمهوريت او د امريکا متحده اياالت دا لاندې ژمنې کوي:

### لومړی برخه

د افغانستان اسلامي جمهوريت او متحده اياالت دا درک کوي چې القاعده، د داعش خراسان څانګه او نورې نړيوالې تروريستي ډلې يا افراد د خپلو غړو د استخدام، مالي تمويل، روزنې او داسې بريدونو لپاره د افغانستان خاورې کارولو ته دوام ورکوي چې د متحده اياالتو، د هغوی د متحدينو او افغانستان امنيت ګواښي. له دغو دوامداره تروريستي ګواښونو سره د مبارزې لپاره به د افغانستان اسلامي جمهوريت او متحده اياالت د القاعدې، د دې ډلې د ملاتړو او نورو نړيوالو تروريستي ډلو يا افرادو د ځپلو لپاره لاندې اقداماتو ته دوام ورکوي:

۱ـ د افغانستان اسلامي جمهوريت پر خپله ژمنه ټينګار کوي، دا هيواد به له نړيوالو تروريستي ډلو او يا افرادو سره نه همکاري کوي او نه به ورته اجازه ورکوي چې د دې هيواد پر خاوره غړي استخدام کړي، ويې روزي، د (مخدره موادو د توليد او قاچاق له لارې د پيسو د لاس ته راوړلو په ګډون) د تروريزم د تمويل لپاره پيسې راټولې کړي، د دې هيواد له لارې تېر شي، له نړيوالو منل شويو اسنادو يې ناقانونه ګټه پورته کړي او په افغانستان کې د تروريزم په ملاتړ نور فعاليتونه وکړي. افغانستان به دغو تروريستي ډلو او يا افرادو ته پناه نه ورکوي.

۲- د امريکا متحده اياالت له افغان امنيتي ځواکونو او افغان حکومتي ادارو څخه يو ځل بيا پر خپل ملاتړ ټينګار کوي. په دې ملاتړ کې د دواړو هيوادونو تر منځ د پوځي همکاريو د موجودې موافقې له مخې، د افغان امنيتي ځواکونو د وړتياوو لوړول شامل دي چې د داخلي او بهرنيو ګواښونو پر وړاندې د مقابلې توان پيدا کړي. په دې ژمنه کې له افغان امنيتي ځواکونو څخه ملاتړ هم شامل دی چې د افغانستان له خاورې د القاعدې، داعش خراسان څانګې او نورو نړيوالو تروريستي ډلو او يا افرادو له خوا د متحده اياالتو او د هغوی د متحدينو پر ضد د افغانستان د خاورې د استعمالولو مخه ونيسي.

۳- د امريکا متحده اياالت به په افغانستان کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت په رضايت او همغږۍ د القاعدې، داعش خراسان څانګې او نورو نړيوالو تروريستي ډلو له خوا پر امريکا او متحدينو يې د بريدونو د مخنيوي او د دې تروريستي ډلو د ځپلو لپاره پوځي عملياتو ته دوام ورکوي. دا پوځي عمليات د دواړو هيوادونو تر منځ د موجودې امنيتي موافقې او د موجود تفاهم له مخې کيږي چې د امريکا د تروريزم ضد دا عمليات د افغان امنيتي ځواکونود تروريزم ضد عملياتو د ملاتړ په هدف دي.

په دې عملياتو کې به د افغانستان ملي حاکميت، د افغانستان د خلکو امنيت او د ملکي وګړو ملاتړ او ساتنې ته درناوی کيږي.

۴- د امريکا متحده اياالت ژمن دي چې د افغانستان او پاکستان تر منځ به خبرو اترو ته اسانتياوې برابروي، څو په داسې ترتيباتو کار کول يقيني کړي چې د يو بل له حريمه تر سره کېدونکي فعاليتونه به د دې هيوادونو امنيت ته ګواښ نه پېښوي.

### دويمه برخه

د افغانستان اسلامي جمهوريت او د امريکا متحده اياالتو په افغانستان کې د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ له لارې خپلو اهدافو ته رسېدو او ژمنو عملي کولو لپاره په دوامداره توګه د امريکايي او ائتلافي ځواکونو د شتون د کچې او فعاليتونو په اړه سلامشورې کړې دي.

د طالبانو او متحده اياالتو پر هوکړې د طالبانو عمل ته په کتو، د افغانستان اسلامي جمهوريت، متحده اياالت او متحدين په ګډه ارزونه کوي چې په افغانستان کې د پوځي اهدافو تر لاسه کولو لپاره په اوسنۍ اندازه ځواکونو ته نوره اړتيا نشته او له ۲۰۱۴ م کال راهيسې افغان دفاعي او امنيتي ځواکونه د خپل هيواد په امنيت ساتنه کې مخکښ دي او خپله اغېزناکي يې لوړه کړې ده. په دې صورت کې دواړه خواوې ژمنه کوي چې لاندې ګامونه به پورته کوي:

۱ـ د امريکا متحده اياالت به په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر (۸۶۰۰) اته زره او شپږ سوو ته راښکته کړي او د دې ګډې اعلاميې له خپرېدو او له طالبانو سره له توافق وروسته به په (۱۳۵) يو سل او پينځه دېرش ورځو کې له طالبانو سره په شوي توافق کې نورې کړې ژمنې عملي کوي. امريکا به له خپلو متحدينو او ائتلاف سره کار وکړي، څو په افغانستان کې په يوه مناسب وخت او مرحله کې د ائتلافي ځواکونو شمېر کم کړي. دا اقدام به د طالبانو له لوري له متحده اياالتو سره د شوي توافق عملي کېدو ته په کتو تر سره کېږي.

۲- له ګډې ارزونې سره سم او د افغانستان د اسلامي جمهوريت او متحده اياالتو تر منځ د ګډ هوډ له مخې به متحده اياالت، متحدين يې او ائتلافي ځواکونه به د دې ګډې اعلاميې له خپرېدو او د امريکا او طالبانو تر منځ د توافق تر لاسليک وروسته، په ۱۴ مياشتو کې له افغانستان څخه د خپلو پاتې ځواکونو ويستل بشپړ کړي او د طالبانو له لوري له متحده اياالتو سره د شوي توافق عملي کيدو ته په کتو سره به متحده اياالت له پوځي اډو (بېسونو) خپل پاتې ټول پوځيان وباسي.

۳- متحده اياالت پر خپلې دې ژمنې بيا ټينګار کوي چې د افغان امنيتي ځواکونو د روزنې، تجهيز او د هغوی د تقويت او ورته د سلا مشورو ورکولو لپاره به په کلنۍ ډول د مالي ملاتړ غوښتنه کوي، څو افغانستان د کورنيو او بهرنيو ګواښونو پر وړاندې خپل امنيت او خونديتوب وساتي.

۴- د يوه سياسي جوړجاړي او تلپاتې اوربند ته د رسېدو لپاره د شرايطو برابرولو په خاطر به د افغانستان اسلامي جمهوريت د اعتماد جوړونې په هدف د طالبانو له استازو سره د باور جوړونې لپاره د متحده اياالتو له خوا تسهيل خبرو اترو کې ګډون کوي. په دې خبرو کې د دواړو لورو د پام وړ شمير زندانيانو د خوشې کولو امکان ارزول کيږي. متحده اياالت او د افغانستان اسلامي جمهوريت به د دې خبرو اترو د ملاتړ لپاره د سره صليب له نړيوالې اداري مرسته غواړي.

۵- د افغانستان اسلامي جمهوريت ژمن دی چې د بين الافغاني خبرو اترو له پيلېدو سره سم به د ډيپلوماټيکو اقداماتو له لارې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د بنديزونو له لېست څخه د ځينو طالب زندانيانو د نومونو د لرې کولو لپاره د ۲۰۲۰ م کال د مې تر ۲۹مې پورې اقدام کوي. دا اقدام به په هر صورت کې د کاري چوکاټ د موافقې او تلپاتي او پراخ بنسټه اوربند تر موافقې وروسته په دېرشو ورځو کې کيږي.

### درېيمه برخه

۱-متحده اياالت به د ملګرو ملتونو د امنيت له شورا وغواړي چې دا او په دې اړوند نورې موافقې تاييد او په رسميت وپېژني.

۲- متحده اياالت او د افغانستان اسلامي جمهوريت ژمن دي چې د بيارغونې لپاره د اقتصادي همکارۍ په ګډون به په خپلو کې مثبتو اړيکو ته دوام ورکوي.

۳- متحده اياالت به د افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا او سياسي خپلواکي نه ګواښي، پر ضد به يې ځواک نه کاروي او د افغانستان په کورنيو چارو کې به لاسوهنه نه کوي.

۴- متحده اياالت به په افغانستان کې د اصلي کړکېچ ختمولو په خاطر سياسي روغې جوړې ته د رسېدو په برخه کې د روانو هڅو د ملاتړ لپاره، د سيمه ييزې او نړيوالې اجماع رامنځ ته کولو هلې ځلې روانې ساتي.



## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۴,۶۰ |
| € | ۸۲,۲۰ |
| Rp. | ۴۸۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹۵ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه

مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ايډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایګل چاپ

WAYGAL Printing Co.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96

waygalprinting.co@gmail.com

waygalprinting.co

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



یکشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د مارچ لومړی | ۵۲۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۱ | ۲٤ | ۲۱ |
| ۳ | ۷ | ۷ | ۸ | ۱۱ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۰ | لمر ختل ۰۶:۲۳ | ماسپښين ۱۲:۰۶ | مازيګر ۰۳:۲۱ | ماښام ۰۵:۴۹ | ماخوستن ۰۷:۱۳

## نړۍ



گوترېش: د سوريې په شمال کې د وروستي کړکېچ د څېړنې په موخه سيمې ته پلاوی استوو

۳

## فیروز: تدابیر ویژه ای جهت جلوگیری از شیوع بیماری کرونا درکشور اتخاذ گردیده است



وزیر صحت عامه که به هدف بررسی وضعیت صحی به نیمروز سفر کرده، می گوید که تدابیر ویژه ای جهت جلوگیری از شیوع بیماری کرونا درکشور اتخاذ گردیده است.

این در حالیست که بیماری کرونا، اولین بار از شهر ووهان چین شیوع پیدا کرده است، به اساس گزارش ها تاکنون بیش از ۸۵ هزار مورد ابتلا به ویروس کرونا در جهان گزارش شده است و ۲۹۰۰ تن جان خود را از دست داده اند.

فدا محمد پیکان معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه، به رسانه ها گفته است که ۲۰ مورد مشکوک بیماری کرونا در ولایت های هرات، هلمند، غور و فراه گزارش داده شده که از جمله یک واقعهٔ مثبت تثبیت شده و متباقی منفی بوده اند.

به دنبال شیوع بیماری کرونا در شهر قم ایران، حدود یازده روز قبل واقعات مثبت این بیماری در ولایت هرات نیز گزارش داده شد.

نیمروز یکی از ولایت های هم سرحد با ایران می باشد و رفت و آمد مسافران از آن کشور از طریق مرز نیمروز نیز صورت می گیرد.

داکتر فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه افغانستان، که دیروز برای بررسی وضعیت صحی، به ولایت نیمروز سفر نموده و در جمع ده باشندهٔ این ولایت صحبت میکرد، از باشنده های ولایت نیمروز خواست که از طریق رعایت شدید حفظ الصحهٔ فردی و محیطی، از شیوع این بیماری جلوگیری کنند.

وی افزوده است: «اگر پول هنگفتی در راه مبارزه با مرض کرونا مصرف شود و مردم به حفظ الصحهٔ شان توجه نداشته باشند، بی فایده خواهد بود.»

## چينايي چاراواکي: په دغه هېواد کې پر کرونا ويروس اخته ۳۹ زره کسان ښېرته جوړ شوي



د راپورونو له مخې، چينايي چاراواکو ويلي چې په دغه هېواد کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر ټولټال ۷۹۲۵۱ تنو ته رسېدلی، چې له دې ډلې يې ۳۹ زره کسان ښېرته جوړ شوي او له روغتونونو رخصت شوي دي.

د فارس خبري اژانس د خبر له مخې، د چين د روغتيا چاراواکو ويلي چې په دغه هېواد کې د ياد ويروس د پراخېدو لړۍ مخه تر ډېره نيول شوې او روغتيايي خدمتونه يې د بل هر وخت په پرتله چټک کړي دي.

په ورته وخت کې د روغتيا نړيوال سازمان ويلي، چې په نړيواله کچه د کرونا ويروس په چټکۍ سره د پراخېدو په حال کې دی او که يې د مخنيوي لپاره اقدامات ونه شي، نړۍ به له جدي ګواښ سره مخ کړي.

د يادونې ده چې کرونا ويروس چې په لومړي ځل د چين په ووهان ښار کې يې پېښې ثبت شوې، تر دې دمه د نړۍ له ۳۰ ډېرو هېوادونو ته خپور شوی دی. د راپورونو له مخې، له چين وروسته، ايران هغه هېواد دی چې د ياد ويروس له کبله پکې د قربانيانو شمېر ډېر لوړ دی.

## راپورونه: په پاکستان کې د ترافيکي پېښې د قربانيانو شمېر ۱۹ تنو ته رسېدلی

د راپورونو له مخې، د پاکستان په سند ايالت کې د اورګاډي او بس په ټکر کې لږ تر لږه ۱۹ تنه وژل شوي او په لسګونه نور ټپيان شوي دي.

د کراچۍ د رېل مسوول طارق کلاچي ويلي چې دا پېښه د روهاړي په سيمه کې چې د کراچۍ له شمال ۴۷۰ کيلومتره لرې پرته ده، رامنځ ته شوې ده.


د اورګاډي دې مسوول دغه راز ويلي چې په دې پېښه کې لږ تر لږه ۵۰۰ تنه ټپيان شوي هم دي. په ورته وخت کې د دغه هېواد روغتيايي چاراواکو ويلي، د ځينو ټپيانو وضعيت د اندېښنې وړ دی او ښايي د مړو شمېر تر دې هم ډېر شي. د راپورونو له مخې، د پېښې ټول قربانيان هغه سورلۍ دي چې په سروېس کې سپاره وو.

پاکستاني چاراواکو رويټرز خبري اژانس ته ويلي، چې دغه رېل له کراچۍ لاهور ته روان و، چې له بس سره د ټکر په پايله کې يې ياده مرګ ژوبله رامنځ ته شوه.

د يادونې ده چې په پاکستان کې د تېرو څو لسيزو په ترڅ کې اداري فساد، ناسم مديريت او پر رېلونو نه‌پاملرنه د دغه هېواد د اورګاډي سيستم له ستونزو سره مخ کړی دی.


## ژوند

## له مانا ډک ژوند وکړئ



له مانا ډک او داسې ژوند وکړئ چې راتلونکو نسلونو ته يو سم څه په ميراث پرېږدئ. د ونتېي فير ورځپاڼې يوه برخه مې لوسته، د يو ليکوال په اړه وه چې (ارټ باکوالډ) نومېده. دا کس اوس اتيا کلن دی او د ځيګر پر ناروغۍ اخته دی. له نوموړي ليکوال، ارټ باکوالډ څخه پوښتنه شوې وه چې: «ستاسو په اند کامله خوښي او خوشالي څه ده؟» ځواب يې داسې و: «سالم ژوند وکړه.» وروسته بيا ترې وپوښتل شول: «غواړې چې کومې ورتياوې ولرې؟» ځواب يې ورکړ: «د ژوند کولو وړتيا.» يو ځل بيا يې ترې وپوښتل: «ستا تر ټولو ګران بيه شتمني څه شی ده؟» ويې ويل: «زما ټولې ليکنې، هغه ۳۲ کتابونه چې ليکلي مې دي او ټول مطالب مې چې نشر شوي دي.» له ځانه داسې څه يادګار پرېږدئ څو راتلونکي نسلونه په دې پوه شي چې دلته اوسېدلي ياست.

## د ناريال شيدو روغتيايي ګټې



د ناريال شيدې د ډېرو ناروغيو لکه د ستوني درد، د معدې زخم او نورو لپاره تسکين ښښونکې دي. څېړنو ثابته کړې هغه کسان چې د بډوډو ناروغي لري او يا هم د بډوډو شګې، نو د له منځه وړلو لپاره يې د ناريال شېدې ګټورې دي. دغه راز د ناريال اوبه چې د مدني موادو په تېره بيا د پوتاشيم او مګنيزيم سرچينه ښلل کېږي، په بډوډو کې د ډېرې د جوړېدو مخه نيسي. له همدې کبله روغتيا پالان د هغو کسانو لپاره چې بډوډې يې په دوامدار ډول شګې جوړوي، د ناريال اوبه توصيه کوي. د ناريال د منځ اوبه د بشر لپاره د طبيعت تر ټولو ښه ډالۍ ګڼل کېږي؛ دغه اوبه په خپل ترکيب کې په زياته کچه ويټامينونه، معدني مواد، امينو اسيدونه، کاربوهايدريټ، انتي اکسيدان، انزايمونه، مغذي مواد او نورې ډېرې ګټې لري. په ټوله کې ويلی شو چې د ناريال اوبه د هغو موادو او منرالونو درلودونکې دي چې د بدن لپاره ګټورې دي. د ناريال اوبه د تندې د له منځه وړلو لپاره ګټورې دي، نو د اوړي په ګرمو ورځو کې يې څښل درسره مرسته کولی شي. د اوړي په ګرمۍ کې انسان د خپل بدن يوه زياته اندازه اوبه له لاسه ورکوي، نو که د ناريال له اوبو ګټه واخلی، په اسانۍ سره کولی شی چې د خپل بدن اوبه پوره کړی.


ماستر ډبټ کارت

د عزيزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
- د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.

www.azizibank.af 1515



عزيزي بانک

Azizi Bank